مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال

۲۰۲۱/۰۵/۰۴

# ځواب به يې څه وي؟؟؟

د روښانفکرانو او ملتپالو ترمنځ سليقه يي اختلافات، تربګنۍ، د پېښو په وړاندې د دوی بېتفاوتي له يوې خوا، له تش په نامه قدرت څخه د محروم پاتې کېدلو د عقدو له کبله د افغانستان د دوښمنو په ګټه، د ځينو ځينو په تبليغاتي نانځکو بدلېدل له بلې خوا، ترهرګر سپين سترګي کوي، چې ماشومان، ښځې او عام خلک په بمونو ووژني .

د بې اتفاقه روښانفکرانو جرم د ترهګرو له وحشت څخه کم نه دی .
د يو شمېر افغانانو يو لوی او تاريخي جهالت دا دی، چې له دولتونو سره مخالفت له افغانستان سره د دوښمنۍ تر افراط پورې لوړوي .

دوی نه پوهېږي، چې له دولت سره فکري - نظري مخالفت او پر ستونزو او نيمګړتياو نيوکې د دوی سياسي حق دی، خو له افغانستان سره دوښمني، دوښمن ته د دې زړه ورکول چې نور ماشومان ووژني او د اسلام په نامه د ګاونډ استخباراتو ته سپي سپي کېدل ملي خيانت دی .
دا دواړه سره بېل کړئ !
فکر وکړئ، سبا د تاريخ په محکمه کې افغانوژونکي ترهګر د ملت په وړاندې ودرول شول، نو که هغه مهال له روښانفکرانو او ملتپالو پوښتنه وشي، چې تاسو چېرته وئ؟ په څه حال کې وئ؟ خومره سره متحد و متفق وئ؟ ځواب به يې څه وي؟؟؟

#پوښتني وکړئ

پوښتې ښې دي.





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هيله من یو خپله لیکنه له راليرلو مخکي په خير و لولئ